مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند

۲۰۱۹/۰۸/۲۸

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه،

## څلور دېرشمه برخه

## (د لنډیو په باب د شپون صاحب نظر)

**زما پرې هسې نـوم بـدنـام دی**
**د روسی سرې شونډې طالب خوړلي دينه**

**چي اوړی تېر شي خوله به درکړم**
**اوس پـه خـولـو ککـړه يم تـروشه بـه وينه**

کله چي د لنډيو په باب څېړني له نظره تېرې شي، هيځکله به داسي نظر سره مخ نه شئ چي ليکلي دي وي چي د لنډيو ژانر د له منځه تلو په حال کي دی. د وخت او موقعيت له مخي کېدای شی وويل شي چي لنډۍ ضعيفه ده او يا يې انځور جوړونه د خوند نه ده، خو د له منځه تلو فکر يې مردود دی.
د دې مقالې موضوع، د لنډيو په باب د شپون صاحب يو لنډکی نظر دی او اصلي موخه يې دا ده چي ښتنو ته ووايي چې پام مو وي چې ستاسو د ادبياتو دا ژانر (لنډۍ) مخ پر ځوړ روان دی، بايد غم يې وخورئ او د ضعيفېدو مخنيوی يې وکړئ.

د شپون صاحب د مقالي هغه برخي چي لنډۍ ته په کې اشاره شوې ده دا ده:«

**پيسي راغله، فانټا راغله = جلالا اوبه ترخي شوې**

**لنډۍ د ښتو تر هر ليکلي شعري ديوان نه د ښتنو د ژوند ښه ترجمانه ده، يا لږ تر لږه وه ...**
**...ادبي ژانرونه هم زوکړه او مرګ لري. زما اټکل دا دی چي د قصيدې په شان، لنډۍ د ژانر په حيث مخ په زوال که نه وي مخ په ځوړ روانه ده، خير که بيا ياران را ته په غوسه شي.**
**يو وخت ما خپله په يوه ملي شاعرانتقاد کړی و چي له ځانه يې لنډۍ جوړولې.**
**خطا وتلی وم. که نوې جوړې نشي دا ژانر مري. خو زما لويه انديښنه دومره شکل اولوښنی ته نه ده لکه هغه نګولی چي لوښي کي اچول کيږي. اصلي انتقاد مې هم په همدي موجوده سلاتی دی چي ليکوال يې د ناول، هايکو، لنډي کيسي او شعر په نومونو لوستونکو ته ورکوي. د ديالوګ، اداني، تلوس... د خدای پنډ نوروپارسي او لاتيني نومونو دنی پرې پردي، بربنډتيا ورسره اغږي، ګويا لوستونکو ته يو قسم پت ګواښ هم کوي چي زه تر تاسو په عصري مفهومونو ډېر پوهيږم. پوهه دې اور واخله، شهرت دې خاوري شه، خو يو داسی شی وليکه چي هم خوند ولري، هم د موجودي ټولني رښتوني ترجماني وکړي، هم بل چا نه وي ليکلی، نوی وي. باسي نه وي.**
**د« کټور» شرط مې ځکه کښينښود چي بيا د ايډيالوژۍ تبليغات را لمبر نه کړي . هغه برخه دې مقالو او تحليلنامو ته پاتي وي. زما خبره ادبياتو ته متوجه وه، منظوم او منثوړ هنر ته.»**

د «پيسي راغله، فانټا راغله = جلالا اوبه ترخي شوې» تر سرليک لاندې د استاد شپون مقاله تاند د ۲۰۱۹ کال د اګست پر يوويشتمه نېټه (۲۰۱۹/۰۸/۲۱) د دويم ځل له پاره خپره کړه او ورسره ليکلي يې دي چې:
« د استاد شپون دا ليکنه لومړی پلا د ۲۰۱۱ د سپټمبر په ۱۳ نېټه په تاند کې خپره شوې وه.»



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

د شپون صاحب مقاله د لومړي ځل خپرېدو پر مهال زما له نظره نه وه تېره شوې، چې زه يې خپل غفلت ګڼم، که نه ما به د لنډيو په باب د خپلو مقالو **«لنډۍ، د ښتولو ستونزه»** په لړ کې، هغه وخت يو څه پرې ليکلي وای.
زه شپون صاحب ته د يوه نوښتګر، پرکاره او د ځانګړي سبک خاوند ليکوال په حيث درناوی لرم، او دا يې هم يو نوښت ګڼم چې د پښتو ادب د خزان وهلي بڼ د نورو ګڼو نيمګړتياوو تر څنګ يې د لنډيو صعودي سير ته هم اشاره کړېده. سره له دې چې په ژوند کې د هر اړخيزو بدلونونو په رامنځ ته کېدو سره لنډيو هم تر يوې اندازې ځان بدل کړيدی او د نوي ژوند ډېرې برخې يې په خپله لويه او شنه لمن کې را نغښتې دي، خو بيا هم کله ـ کله هاغه پخوانی قوت، انځور او... په کې نه وي چې زه يې دلايل:

**ـ له وطن، کلي ، کور، ګودر، غر، کمر، کندو او... د خلکو او په تېره د نوي نسل لرې کېدل ګڼم،**

**ـ جګړه دې خدای په خپل اور کې وسوځوي لوی دليل يې اوږده جګړه هم کېدای شي چې خلک بل فکر ته او بل کار ته نه پرېږدي،**

**ـ بل دليل يې دا کېدای شي چې د لنډيو په باب د څه ليکلو او د لنډيو د را ټولولو کار يخ شوی دی او د لنډيو معرفي او شناخت ډېر کم شوی دی. په بهر کې زمونږ د نوي نسل ډېره سلنه لنډۍ نه پېژني، نو څنګه به يې د تخليق فکر وکړي.**

اوس هم نا وخته نه ده، که هر مور پلار يا بل مشر پښتون وکولای شي په خپل کور کې خپلو ماشومانو او پېغلو زلميانو ته د لنډۍ تعريف وواييي، جوړښت او ځينې نورې ځانګړنې يې ور وپېژني او څو خوږې بېلګې يې په مخ کې ورته کېږدي؛ زه ډاډه يم چې د هر کور او کاله ځوانان او پېغلې به لنډۍ زمزمه کړي او خپل احساسات به د همدې فولکلوريک ژانر په قالب کې وړاندي کړي.

د دې برخې د پای لپاره مې څو نوې او زړې لنډۍ غوره کړې دي:

چې اوړی تېر شي خوله به درکړم
اوس پـه خـولـو ککړه يم تـروشه بـه وينه

پر تناره مه ورغورېږه
د اوربـــل څوکې به دې اور وسوځوينه

د واتيکان د ديوال بيخ کې
سيورې ته ناست دی د وطن ژړا کوينه

څنګه نرې يې لکه لښته
کوم بختور به درنه لاس چاپيروينه

چې دوکتورا دې کړې نه وي
د ماسترۍ په سويه خوله نه درکومه

اول د هيچا په کار نه وې
چې ما لالی کړې قافلې درپسې ځينه

لالا يې تورو خاورو وخوړ
خور يې جامې اوتو کوي چې رابه شينه

که ستا ياري مې پوره نه کړه
بيا لېونۍ بنه يم چې ډکې تولومه

که ستا ياري مې ياري نه کړه
بيا لېونۍ بنه يم چې ډکې تولومه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

حال دې مالوم که، څواب راکړه
زه دې له بلې یاراني ایستلې یمه

ایمان دې ښه راته مالوم دی
په مشدۍ لونګۍ دې مه وهه لاسونه

اختر دې ستاسو مبارک شي
مورن مساپر یو دلته نشته اخترونه

د سرې ډولۍ په ارمان مړه شي
نصیب دې مه شه په نکریزو سره لاسونه

روژه د خدای د پاره نیسم
اختر ته ستا د پاره کلي ته درځمه

نسوار دې واچول ویده شوې
په زړه دې نشته د کرېکټ سوي داغونه

مورن په نکریزو نه پوهېږو
څوک چې لاسونه سره کوي یار به لرینه

زما پرې هسې نوم بدنام دی
د روسۍ سرې شونډې طالب خوړلې دینه

د تمبل غږ دې را ژوندی کړم
خاورې دې مه شه د اوړدو ګوتو سرونه

داسې په ځنګ رانه تېرېږې!
لکه روژه دړ باندې ما نیولې وینه!

د ځلور دېرشمې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ